د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 484**

(01 - 06 اسد 1404 هـ ش)

## د افغان-ټرانس پروژې جیوپولیټیک اهمیت؛ فرصتونه او ننګونې

---



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د افغان-ټرانس پروژې جيوپوليټيک اهميت؛ فرصتونه او ننګونې ........ 3
- د افغان-ټرانس پروژې مخينه ........ 3
- د افغان-ټرانس پروژې جيوپوليټيک اهميت ........ 4
- ننګونې ........ 5
- فرصتونه ........ 7
- پايله ........ 8
- وړانديزونه ........ 9
- سرچينې ........ 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د افغان-ټرانس پروژې جیوپولیټیک اهمیت؛ فرصتونه او ننګونې

### سریزه

د ۱۴۰۴هـ.ل. کال د سرطان پر ۱٦مه، د "افغان-ټرانس" ریل پټلۍ پروژې د پلي کولو د لارو چارو مطالعې لپاره د تړون د لاسلیک مراسم د افغانستان، پاکستان او ازبکستان د لوړ پوړو چارواکو په شتون کې کابل کې ترسره شول. په دې مراسمو کې د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر او د لومړي وزیر مرستیال محمد اسحاق ډار او د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر بختیار سعیدوف ګډون کړی وو. دا تړون د افغانستان د فواید عامې وزارت، د ازبکستان د ترانسپورت وزارت او د پاکستان د اورګاډي وزارت ترمنځ په ارګ ماڼۍ کې لاسلیک شو. دا پروژه چې یو له لویو سیمه ییزو پروژو څخه ده او مرکزي آسیا د افغانستان له لارې له جنوبي آسیا سره نښلوي، همدارنګه د سیمه ییزو زیربناوو په پراختیا او د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په سوکالۍ کې د پام وړ رول لوبوي.[1]

د افغان ـ ټرانس ریل پټلۍ پروژه یو له هغو مهمو سیمه ییزو جیوپولیټیک نوښتونو څخه ده چې موخه یې د مرکزي آسیا هېوادونه له جنوبي آسیا سره نښلول دي او د افغانستان اسلامي امارت پرې کار پیل کړی دی. دا ریل پټلۍ به شاوخوا ۷۷۴ کیلومتره اوږده وي، چې د ازبکستان د ترمز ښار څخه پیل او د مزار شریف، کابل، میدان ښار، لوګر او پکتیا له لارې د خرلاچي بندر ته غځېږي او د پاکستان په پېښور کې پای ته رسیږي.[2] د دې پروژې د پلي کولو د لارو چارو مطالعاتو لپاره د تفاهم یادښت، چې د افغانستان، پاکستان او ازبکستان هېوادونو ترمنځ په کابل کې د لوړ پوړو چارواکو په شتون کې لاسلیک شو او د رسمي همکارۍ د پیل یو ټکي په توګه وپیژندل شو. د راپورونو له مخې، د دې پلان د پلي کولو لګښت له ۴,۸ څخه تر ۷ ملیارده ډالرو ترمنځ اټکل شوی او تر 2027ز. کال تر پایه پورې به پلي شي.[3] د دې ریل پټلۍ کلنی ظرفیت تر 5 میلیون ټنو پورې دی، چې د بار وړلو وخت یې له 35 ورځو څخه شاوخوا 5 ورځو ته راټیټوي او د ترانسپورت لګښتونه تر 40٪ کموي.[4] په دې پروژه کې د بار وړلو سټېشنونه، د ګمرک ټرمینلونه، لوژستیک مرکزونه او د ډیجیټل کارګو مدیریت سیسټمونو کارول شامل دي.

په دې مقاله کې، به د افغان ټرانس پروژې تاریخ ته کتنه وشي او د هغې جیوپولیټیک اهمیت، ننګونې او د پلي کولو لپاره فرصتونو په اړه به بحث وشي.

### د افغان-ټرانس پروژې مخینه

د افغان- ټرانس ریل پټلۍ پروژه د سیمه ییزو ترانسپورتي شبکو د نښلولو لپاره د افغانستان په تاریخ کې یوه هڅه بلل کیږي. که څه هم په افغانستان کې د اورګاډي پټلۍ د جوړولو مفکوره په شلمه پیړۍ کې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د امير امان الله خان له دورې څخه پيل شوې، خو تر وروستيو کلونو پورې د سيمه ييزې اورګاډې د نښلولو لپاره کومه لويه عملي طرحه نه وه پلي شوې، خو د ۲۰۱۸ کال په ډسمبر کې، ازبکستان لومړنی هېواد و چې افغانستان د مزار شريف له لارې له پاکستان سره د اورګاډي د پټلۍ په واسطه د نښلولو لومړنی وړانديز وکړ.[5] دا وړانديز په وروستيو کلونو کې د افغانستان د اسلامي امارت په ملاتړ او د پاکستان او ازبکستان په همکارۍ ډېر رسمي بڼه غوره کړه او بالاخره د پلي کولو د لارو چارو د همغږۍ هوکړه ليک په کابل کې د همدې درېو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو په شتون کې لاسليک شو. که څه هم د دې پروژې په لومړيو پړاونو کې، د دې ريل پټلۍ لپاره دوه لارې چې د افغانستان له خاورې څخه تيرېږي وړانديز شوې وې، لومړۍ لاره د لوګر له لارې تورخم ته او دوهمه لاره د لوګر له لارې پکتيا ته وه چې په پاکستان کې پای ته رسيږي، خو د تخنيکي، چاپيريالي او امنيتي بياکتنو وروسته، دويمه لاره غوره شوه ځکه چې دا لنډه (۱۲٦ کيلومتره لنډه) وه نرمه ځمکه، ډېر امنيت، او ټيټ لګښت ټاکل شوې دی.[6] دا پروژه د ازبکستان له ترمز څخه پيل او د افغانستان له لارې د پاکستان پېښور ته ورسيږي. په افغانستان کې د دې لارې اوږدوالی شاوخوا ٦٨١ کيلومتره دی او د ۱۵۲۰ ملي متره معيار سره به ډيزاين شي ترڅو د ازبکستان د ريل شبکې سره مطابقت ولري.[7] په دې درې اړخيزه غونډه کې، د دې پروژې لپاره د پوره مطالعې او نړيوالې پانګونې د جذب لپاره يو کلن پلان هم تصويب شو.

## د افغان-ټرانس پروژې جيوپوليټيک اهميت

د جيوپوليټيک له نظره، د افغان -ټرانس پروژه د افغانستان او سيمې لپاره يو ستراتيژيک بدلون ګڼل کيږي. د آسيا په زړه کې د افغانستان ځانګړی جغرافيايي موقعيت په تاريخي ډول دا هېواد د مرکزي آسيا، سويلي آسيا او منځني ختيځ ترمنځ د پل په توګه ګرځولی دی. د افغان- ټرانس پروژه، چې موخه يې د ازبکستان د ريل پټلۍ له لارې افغانستان د پاکستان د ګوادر او کراچۍ بندرونو سره نښلول دي او دا به افغانستان د وچې پورې تړلي هېواد له حالته لرې کړي او د سيمې په اقتصادي لويه لاره به يې بدل کړي. دا اقتصادي دهليز، پداسې حال کې چې د مرکزي آسيا د وچې پورې تړلو هېوادونو لپاره تودو اوبو ته لاسرسی اسانه کوي، د هېوادونو ترمنځ د پراخو سوداګرۍ او اقتصادي تعاملاتو لپاره يو پليټ فارم چمتو کوي او په سيمه کې د يوې مهمې حلقې په توګه د افغانستان موقعيت رامنځته کوي.

د دې پروژې جيوپوليټيک اهميت د سيمه ييز ټرانزيټ نقشې په بيارغونه کې دی، چې د دې په بشپړيدو سره به افغانستان له انزوا څخه راووځي او د مرکزي او جنوبي آسيا ترمنځ به نوې لارې رامنځته شي. دا به په يوې ځانګړې لارې تکيه کمه کړي او د لارو شبکې به متنوع کړي. په پايله کې، په اقتصادي او سياسي خبرو اترو کې د افغانستان د معاملې ځواک به زيات شي او د ايران او روسيې په ګډون د محدودو لارو په اړه د

مرکزي آسیا هېوادونو تکیه به هم کمه شي. دا جیوپولیټیک بدلونونه به افغانستان د انرژۍ او توکو د تبادلې لپاره د جاذبې مرکز کړي او په سیمه ییزو تعاملاتو کې به یې رول ډېر مهم شي. سربېره پردې، دا پروژه به افغانستان ته یو پلیټ فارم برابر کړي چې په نړیوال اکمالاتي زنځیر کې ستراتیژیک رول ولوبوي، کوم چې کولی شي د دوامداره اقتصادي بدلون لپاره لاره هواره کړي.

د امنیتي پلوه، د افغان- ټرانس پروژه د سیمه ییز ادغام د پیاوړتیا او د سیمې د هېوادونو، په ځانګړې توګه د ملګرو هېوادونو لکه افغانستان، پاکستان او ازبکستان ترمنځ د اقتصادي متقابل انحصار د پیاوړتیا وړتیا هم لري. دا اقتصادي تړاو، د لارې د خوندي کولو او د هېوادونو ترمنځ د استخباراتي او امنیتي همکاریو د پراختیا لپاره یو ګډه انګېزه هم رامنځته کوي، چې په پایله کې یې سیاسي کړکېچونه کمیږي، سوله ټینګیږي او په افغانستان او سیمه کې ثبات رامنځته کیږي. همدارنګه، د سیالو پروژو لکه د چین-پاکستان اقتصادي دهلیز (CPEC) او د ایران د چابهار بندر سره سیالي د پانګونې او افغانستان ته د سیمه ییزو قدرتونو د پاملرنې د راجلبولو لپاره یو نوی فرصت برابروي. که دغه پروژه په هوښیارۍ سره مدیریت شي، نو دا سیالي کولی شي په سیمه کې د ستراتیژیکې ترانزیتي لارې په توګه د افغانستان دریځ پیاوړی کړي او د نړیوالو اړیکو په ښه کولو کې یې مرسته وکړي.

په لویه کچه، د افغان ټرانس پروژه په سیمه کې یو له خورا مهمو جیوپولیټیک نوښتونو څخه ګڼل کیږي، چې د سیمه ییز نظم په بنسټیز ډول بدلولو وړتیا لري. د افغانستان له خاورې څخه د اورګاډي پټلۍ په تېرېدو سره، دا پروژه به د مرکزي او جنوبي آسیا ترمنځ د توکو د لېږد لپاره لنډې، ارزانه او خوندي لارې چمتو کړي او همدارنګه به د سیمه ییز ټرانزیټ شبکو کې د افغانستان رول پیاوړی کړي. د دې پروژې په عملي کېدو سره، ازبکستان به د پاکستان سویلي بندرونو او په پایله کې د هند سمندر ته مستقیم لاسرسی ومومي او د ایران او ترکمنستان د ټرانزیټ لارو باندې به یې تکیه کمه شي. په همدې اړه، دغه هېواد د روسیې، چین او خلیج هېوادونو سره د پانګونې او سیاسي ملاتړ د راجلبولو لپاره خبرې اترې کوي. له بلې خوا، د دې پلان په پلي کولو سره، پاکستان کولی شي خپل اقتصادي نفوذ پراخ کړي او د سیالو هېوادونو، په ځانګړې توګه هند سره په سیالۍ کې خپل ستراتیژیک موقعیت پیاوړی کړي. په پای کې، د افغان ټرانس پروژه به د یو نوي یوریشیا نظم د جوړولو لپاره لاره هواره کړي؛ داسې یو نظم چې افغانستان پکې له یوې بحراني او حایل سیمې څخه په یوه حیاتي اقتصادي څلور لارې بدل شي، همدارنګه دا به د ودې، بې وزلۍ کمولو، د کارموندنې زیاتوالي او د ثبات د ټینګښت لامل هم شي.

## ننګونې

د پورته ذکر شویو ګټو سربېره، دا پروژه له یو لړ ننګونو سره هم مخ ده، چې ځینې به یې موږ په ګوته کړو:


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**سیاسي ننګونې:** د افغان-ټرانس پروژې په وړاندې یوه له جدي ننګونو څخه په دې پروژه کې د ګډون کوونکو هېوادونو، په ځانګړې توګه افغانستان او پاکستان کې سیاسي بې ثباتي ده. که څه هم په افغانستان کې د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته، تاوتریخوالی کم شوی او امنیت تامین شوی دی، خو د ټول شموله حکومت د نه جوړېدو ادعا، له نړیوالې ټولنې سره د اسلامي امارت محدود تعامل او د ډېرو هېوادونو حتی په دې پروژه کې د ګډون کوونکو هېوادونو له خوا د اسلامی امارت په رسمیت نه پیژندلو ته په پام سره، نه یوازې د پروژې د پلي کول له خطر سره مخ کوي، بلکې د پروژې لپاره د نړیوالې همکارۍ او سیاسي ملاتړ ساحه هم محدودوي.

له بلې خوا، په پاکستان کې، د تحریک طالبان پاکستان (TTP) فعالیتونه، داخلي بحرانونه او د بلوچستان او خیبر پښتونخوا په څېر ولایتونو کې سیاسي بې ثباتي د دې پروژې په وړاندې امنیتي او سیاسي خنډونه ګڼل کیږي. له بلې خوا، د افغانستان او پاکستان ترمنځ تاریخي سرحدي شخړې، د ایران، ترکمنستان، هند او چین ترمنځ جیوپولیټیکي سیالۍ او حتی په دې پروژه کې د اروپایي هېوادونو سره د چین د پانګونې سیالي؛ دا ټول کولی شي د پروژې په لاره کې څو اړخیزه همکاري هم ستونزمنه کړي او د پلي کولو مرحله یې وځنډوي.

**اقتصادي او مالي ننګونې:** له بلې خوا، د افغان -ټرانس پروژې تمویل شاید د هغې یو له خورا ستونزمنو مرحلو څخه وي. د پروژې اټکل شوی لګښت د ۴،۸ میلیارده ډالرو څخه تر ۷ میلیارده ډالرو ترمنځ اټکل شوی او په افغانستان کې د بانکي بندیزونو، اقتصادي ستونزو، فقر او د خوړو بحران ته په پام سره د هغې تمویلول ستونزمن ښکاري. افغانستان د نړیوالو بانکي سیستمونو ته د لاسرسي په برخه کې له سختو محدودیتونو، اقتصادي بندیزونو او د پانګوالو د حقونو لپاره د تضمین نشتوالي سره مخ دی، چې د نړیوالو پانګوالو باور یې کم کړی دی. په پاکستان کې هم د بهرنیو پورونو بحران، لوړ انفلاسیون او د ملي اسعارو د ارزښت کموالی د پانګونې لپاره د کورنیو سرچینو تمویلول ستونزمن کړي دي. که څه هم ازبکستان ډېر باثباته ښکاری، خو د پروژې د تمویل لپاره د دریم هېوادونو لکه متحده عربي اماراتو، سعودي عربستان او چین په ملاتړ پورې اړه لري او د ګډو دریو هېوادونو ترمنځ د ګډ مالي میکانیزم نشتوالی به د پروژې د سرچینو مدیریت کول ډېر ستونزمن کړي. همدارنګه، د لاجوردو دهلیز، چابهار، او د چین-پاکستان اقتصادي دهلیز (CPEC) په څېر بدیلو لارو سره سیالي ممکن د افغان-ټرانس څخه احتمالي مالي سرچینې وګرځوي.

**تخنیکي او زیربنایي ننګونې:** افغانستان د فني او زیربنایي پلوه له ستونزو سره مخ دی. د ترانسپورټي زیربناوو نشتوالی، خطرناکې غرنۍ لارې او د پرمختللو تجهیزاتو نشتوالی د پروژې پلي کول وخت نیسي او ګرانوي. د ریل پټلۍ انجینرۍ، د پروژې مدیریت، او د زیربناوو ساتنې په برخو کې د ماهرو کارګرانو کمښت هم د پروژې کیفیت او پایښت ګواښي. د ریل پټلۍ د ګیجونو، سیګنال سیستمونو او تخنیکي معیارونو په



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

برخه د درېو واړو هېوادونو ترمنځ قوي همغږۍ ته اړتیا لري. پاکستان له خپلې تجربې سربېره، په سرحدي ایالتونو کې د دولت د همغږۍ او د موجوده زیربناوو د قوي ساتنې له ستونزو سره مخ دی. ازبکستان به د حیرتان پولې څخه تر پېښور پورې د لارې د پراخولو لپاره د ګاونډیو هېوادونو سره پېچلي انجینري ډیزاینونو او تخنیکي معیاري کولو ته هم اړتیا ولري.

**جیوپولیټیکي ننګونې:** د افغان-ټرانس پروژه د خپلو اقتصادي ابعادو سربیره، یو درونډ جیوپولیټیک بار هم لري. ازبکستان دې پروژې ته په روسیه باندې د خپل ټرانزیټ انحصار کمولو او د مرکزي آسیا او سویلي آسیا د نښلولو د لویې لارې په توګه د خپل رول د پیاوړي کولو لپاره د یوې بلې لارې په توګه ګوري، پداسې حال کې چې پاکستان دې پروژې ته په سیمه ییز اقتصاد کې د خپل رول د پیاوړتیا او د مرکزي آسیا بازارونو ته د لاسرسي لپاره د یوې مهمې لارې په توګه ګوري، خو ایران او ترکمنستان به هڅه وکړي چې د بدیلو لارو په جوړولو سره د افغانستان رول کم کړي. له همدې امله، د څو اړخیزو ترونونو نشتوالی او د سیمې د هېوادونو محافظه کاره پالیسۍ د همکارۍ چاپیریال پیچلی کوي او د پروژې لاره د منفي سیالۍ او ځنډونو خطر سره مخ کوي.

### فرصتونه

**امنیتي فرصتونه:** پخوا په ځانګړې توګه د جمهوري دورې په وخت کې، ناامني د افغان- ټرانس پروژې د پلي کولو په وړاندې یو له لویو ننګونو څخه وه. ځکه چې امنیتي ګواښونه د دې پروژې د فعالیت لپاره، پانګونې او سیمه ییزې همکارۍ مخه نیوله، خو اوس چې افغانستان د امنیت له پلوه د یو منل شوي امنیتي کچې ته رسیدلی او د هېواد په ډېري سیمو کې امنیت او ثبات ډاډمن شوی دی. دا شرایط کولی شي د سیمه ییز اتصال او د افغانستان د جغرافیایي موقعیت څخه د غوره ګټې اخیستنې لپاره لاره هواره کړي.

**سیاسي فرصتونه:** د افغان- ټرانس پروژه دا وړتیا لري چې افغانستان له یو ګوښه او په وچه کې راګیر هېواد څخه د مرکزي او جنوبي آسیا ترمنځ په یوه ټرانزیټي لویه لاره بدل کړي. د اسلامي امارت حکومت دې پروژې ته د خپل حاکمیت د پیاوړتیا، د سیمې له هېوادونو سره د رغنده تعامل او له انزوا څخه د راوتلو لپاره د یو فرصت په توګه ګوري. د افغانستان، پاکستان او ازبکستان ترمنځ درې اړخیزه همکاري کولی شي باور رامنځته کړي، سیاسي کړکیچونه کم کړي او سیمه ییزې ډیپلوماتیکې اړیکې پیاوړې کړي. دا پروژه د سیمې د نوي اقتصادي او سیاسي جوړښت یوه برخه ده، کوم چې د مرکزي آسیا او سویلي آسیا سره د نښلولو سره به د لویدیځ څخه خپلواک نوي اقتصادي نظم رامنځته کولو ته لاره هواره کړي.

**اقتصادي فرصتونه:** د اورګاډي له لارې افغانستان د ازبکستان سره د نښلولو وروسته، د افغان ټرانس پروژه به د توکو د لیږد لګښت او وخت له 35 ورځو څخه 3 څخه تر 5 ورځو پورې راټیټ کړي او د ځینو اټکلونو له مخې، لګښتونه به نږدې درې چنده کم شي.[8] افغانستان کولی شي د دې پروژې څخه د پام وړ ټرانزیټي عوایدو څخه ګټه پورته کړي او وړاندوینه کیږي چې د کلني ټرانزیټ حجم به تر 2030 پورې له 22 میلیون ټنو څخه ډیر شي. دا پروژه به په ساختماني، ترانسپورت، د پروژې مدیریت او تخنیکي خدماتو سکتورونو کې په زرګونو مستقیم او غیر مستقیم کاري فرصتونه رامنځته کړي او په افغانستان کې به د ترانسپورت زیربنا، د اورګاډي سټیشنونو او د بار وړلو او خالي کولو مرکزونو پراختیا ومومي. سربېره پردې، دا پروژه به د افغانستان د کانونو، کرنیزو او صنعتي محصولاتو صادرات اسانه کړي او پر بهرنیو مرستو به د هیواد اتکا کمه کړي.

**د زیربناوو فرصتونه:** د افغان- ټرانس پروژې پلي کول کولی شي د تخنیکي پوهې لیږد او د افغانستان د تخنیکي ظرفیت لوړولو لپاره لاره هواره کړي. د پروژو ډیزاین، ساختماني او مدیریت په برخه کې د تجربه لرونکو هېوادونو لکه ازبکستان، روسیې او متحده عربي اماراتو سره همکاري کولی شي په افغانستان کې د تخنیکي پوهې لیږد او د ماهر کاري ځواک روزنې لامل شي. د ۱۵۲۰ ملي متری سیسټم کارول او د سیمه ییزو ریل شبکې سره د لارو معیاري کول به د نړیوالو لارو سره اړیکه اسانه کړي او د یوریشیا ریل شبکې د یوې برخې په توګه به د افغانستان دریځ پیاوړی کړي.

**د سیمه ییز ادغام لپاره فرصتونه:** د افغانستان، پاکستان او ازبکستان ترمنځ د افغان- ټرانس پروژې د پلي کولو د لارو چارو د تنظیم دغه درې اړخیز هوکړه لیک لاسلیک به یې له شکه د دوامداره سیمه ییزې همکارۍ او اقتصادي ادغام لپاره بنسټ کیږدي. له بلې خوا، ویل کیږي چې ځینې نور هېوادونه لکه قطر، متحده عربي امارات، چین او روسیه په دې پروژه کې پانګونې ته لیوالتیا لري.[9] په دې صورت کې، دا پروسه به د زیربناوو پراختیا، اقتصادي ودې او د دریو هېوادونو ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو پیاوړتیا لامل شي. د دې پروژې پراختیا به په سیمه کې د بې وزلۍ کمولو، سوداګرۍ ودې، د خلکو د ژوند د معیارونو ښه والي او دوامداره پرمختګ ته لاره هواره کړي او افغانستان به په سیمه ییز اقتصادي نظم کې یو فعال لوبغاړی کړي.

## پایله

د افغان - ټرانس ریل پټلۍ پروژه نه یوازې د اورګاډي ترانسپورت پروژه ده، بلکې یو څو اړخیز جیوپولیټیک نوښت هم دی چې کولی شي د سیمې د اقتصادي، سیاسي او امنیتي جوړښت بدل کړي. دا پروژه چې د افغانستان له خاورې څخه شاوخوا ٦٨١ کیلومتره تیریږي، د مرکزي آسیا هېوادونه پاکستان کې د ګرمو اوبو بندرونو سره نښلوي او د ۵ میلیون ټنو پورې د توکو کلنی لیږد ظرفیت چمتو کوي، پداسې حال کې چې د بار وړلو لیږد وخت له ۳۵ ورځو څخه ۵ ورځو ته او د ترانسپورت لګښتونه ۴۰٪ کموي. ازبکستان،

پاکستان او افغانستان په کابل کې د دې پروژې د پلي کولو د لارو چارو تنظیم هوکړه لیک په لاسلیک کولو سره د سیمه ییزې همکارۍ په لور لومړی ګام پورته کړی او د سیمې هاخوا هېوادونو لکه روسیه، چین، قطر او متحده عربي اماراتو هم د مالي او تخنیکي ګډون لپاره خپله لیوالتیا ښودلې ده.

له جیوپولیټیک پلوه، دا پروژه به افغانستان له یو ګوښه او وچې پورې تړلي هېواد څخه د مرکزي آسیا، سویلي آسیا، منځنی ختیځ او حتی چین ترمنځ په ستراتیژیک ارتباطي پل بدل کړي. د چین-پاکستان اقتصادي دهلیز (CPEC)، چابهار بندر او شمال-جنوب دهلیز په څېر د ترانزیتي لارو ترمنځ سیالي په سیمه ییزو معادلو کې د افغانستان مخ په زیاتیدونکي اهمیت په ګوته کوي. په هرصورت، ننګونې لکه د مناسب زیربنا نشتوالی، د ریل پټلۍ په معیارونو کې توپیر، جیوپولیټیک سیالي او په اداري مدیریت او روڼتیا کې کمزورتیاوې کولی شي د دې پروژې بشپړ تطبیق ته ننګونې رامنځته کړي.

## وړاندیزونه

۱. د افغانستان، ازبکستان او پاکستان په ګډون د یوې ګډې درې اړخیزې مدیریتي اداري جوړول ترڅو د افغان- ټرانس پروژې تخنیکي، مالي او پلي کولو پړاوونه وڅاري، چې د نړیوالو ادارو لکه آسیایي پراختیایي بانک او نړیوال بانک په ملاتړ سره ترسره شي.

۲. د اختلافاتو د مخنیوي لپاره د درې خواوو ترمنځ د همغږي قانوني چوکاټونو رامنځته کول اړین دي.

۳. د دوامداره هڅو، قانوني او مالیاتي تضمینونو په ورکولو سره د بهرنۍ پانګونې جذبول او همدارنګه د قرارداد پروسې روښانه کول ترڅو د پانګوالو باور زیات شي.

۴. د استخباراتي همکارۍ، د ګډو امنیتي واحدونو د جوړولو او د زیربناوو په ساتنه کې د محلي ټولنو د ګډون له طریقه د لارې امنیت ډاډمن کول.

۵. د متخصص پرسونل د روزنې، تخنیکي مرکزونو د جوړولو، او د دوامداره پروژې د عملیاتو لپاره د مدیریت مهارتونو د ښه کولو له لارې د داخلي بشري او تخنیکي ظرفیتونو پیاوړتیا.

## سرچیني

[1]. رادیو تلویزیون ملی: تفاهمنامه مطالعات امکان سنجی پروزه "افغان ترانس" امضا شد، 18 جولای 2025م، لینک:

[2] . **News Central Asia: Uzbekistan, Afghanistan, Pakistan: Launch of the Trans-Afghan Railway Project – Expanding Logistics Opportunities for Central Asia, 19/7/2025, link:**

[3]. Ariana News: مصارف ساخت خط آهن " افغان-ترانس " 7 میلیارد دالر برآورد شد، 26 عقرب 1402ش، لینک:

[4]. Ariana News: ازبکستان: پروژه خط آهن " افغان ترانس" تا پایان سال 2027 تکمیل می‌شود، 15 ثور 1403ش، لینک:



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[5]. موسسه مطالعات راهبردی شرق: خط آهن ترانس- افغان: آیا به مسیر خود باز می‌گردد؟ 17 سنبله 1401ش، لینک:
[6]. اطلاعات صنعتی افغانستان: دفتر پروژه‌ای راه آهن ترانس-افغان در کابل و اسلام آباد افتتاح می‌شود، 26 ثور 1402ش، لینک:
[7]. ایراف: راه آهن ترانس-افغان؛ چشم انداز مبهم یک پروژه بلند پروازانه، 7 ثور 1404ش، لینک:
[8]. خبرگزاری افق: ساخت خط آهن ترانس-افغان 5 سال زمان می‌برد، 29 میزان 1403ش، لینک:
[9]. ترجمان افغانستان: ازبکستان و واقعیت‌های جدید مسیر تجاری ترانس-افغان، لینک:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000